Kandahar. Kabul
Vol.11, No.4, Sartan 1349
(June 1970)

کندهار

د کندز په ولایت کی د همایونی معظم اعلیحضرت د دوروستی سفر له خاطر اتو څخه په هغه وخت کی چی شاهانه ذات د بلقبس دلیسی څخه لیدنه کوی

اوسنی ادب

ښاغلی نظری

ښکلی مرغۍ ته

ای خلکو ددې ځایه لیری او چپ شی ای غمازه خدای ته وګوره ولاړ سه ما پریږده چی زما دزړه مرغی ونه بیریږی .

هو دا مرغۍ حسینه نده خو پرژوند بیریږی او په سپک حرکت اوږغ الوزی .

آ، مرغی دلته آرامی ده ... پام کوه

ته نن خپلی اصلی او حقیقی مینی ته راغلی ئې .

مه ځه آ مرغۍ! ... مه ځه آ مرغۍ!.

پریږده چی خپلی هیلی او آرزوګانی در ته بیان کم

ای مرغۍ! زموږ په کور کی خپله ځالی جوړه کړه .

تا ته به آرامی وی دیخ او ګرمی څخه به په امان سی .

نو مه ځه آ! مرغۍ . مه ځه آ مرغۍ! .

آ مرغۍ ... زه ظالم نه یم ځکه چی ظلم می بدایسی .

نو زما سوری سوری زړه ته د صیاد دام مه وایه .

دا ارمانجن زړه دی چی ستا د فراق څخه پدې ډول شویدی .

زه ستا قدر ډیر زیات لرم او ته می زړه ته نژدی یی .

نو آ مرغۍ مه ځه! ... آ مرغۍ مه ځه! .

ای ښکلی مرغۍ زما څخه لیری لیری الوتنی مه کوه .

زه بی رحمه صیاد او ظالم ښکاری نه یم، زما څخه مه بیریږه .

زه ولی تا ته نابلده ښکاریږم ما خو ته د ډیری پخوا څخه پیژندلی

زه په تاپسی هڅه کوم چی تا د خپلی کوډلی وا کمنه کړم او د خپل

اناری زړه ټوټی ستا د تاج یاقوتان کم .

نو آ مرغۍ مه ځه! . آ مرغۍ مه ځه!.

صدر اعظم ښاغلی نور احمد اعتمادی دهیواد شمالی ولایتونو ته په خپل وروستی سفر کی کله چی
دشبرغان دنفتو دپنځمی ذخیری ځځه لیدنه کتنه کوی .

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005

6 CONTINUATION 6

دامتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹
د یوولسم کال څلرمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۱۸

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی
د هیواد په داخل کی [۳۲]«
په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر

د چونګاښ میاشت
۱۳۴۹ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

ښکلی مرغۍ ته	د پشتی دوهم	مخ
د انسانانو ژوند د سمون او پرمختګ په حال کی دی	۱	مخ
د هنر په وحشی کېدو کی د سمبولیسم رول	۲	مخ
د ځوان لیکوال مسئولیت	۴	مخ
ډېوه	۵	مخ
د کندهار یو ښکلی بڼ	۶	مخ
د هنرمند او هنر هدف	۹	مخ
۲۹۶ فلزی سکی د کندهار	۱۰	مخ
په کندهار کی د بوټ جوړولو صنعت	۱۱	مخ
د ملګرو په یاد	۱۳	مخ
د کندهار هغه نادره شعراچی د زمانی په مختلفو ادوارو کی تیرشوی دی	۱۷	مخ
د مصر مدنیت	۱۹	مخ
صایمه زموږ یوه هنرمنده پیغله	۲۱	مخ
په اقیانوس بحر کی یو مضر حیوان.....	۲۳	مخ
خوب او ښکلا	۲۵	مخ
د لیپ کمار	۲۷	مخ
یتیم	۲۸	مخ
مینی ته	د پشتی دریم	مخ

د کندهار دولتی مطبعه

د انسانانو ژوند د سمون او پرمختګ

په حال کښې دی

سمون او پرمختګ د انسانانو سره لازم او د انسانی لوړ فکر، معنوی قواو او طبیعی ذهنی استعداد د تلاښ نتیجه او د انسانی فضیلت او بشری کرامت نمونه او بشپړ کوونکی ده

د بشر عالی طبیعت، مدنی خوی، عقلی او فکری قوت تل تر تله انسانان دې ته وا داره کوی چې فردی او اجتماعی حالت ئې د ارتقا پرلور بدلون ومومی او ژوند ئې د عصریت سره برابر اړتیاوی یې لیری او د ژوند انه عالی هدف ته ورسیږی او لوئی هیلی یې ترسره شی.

انسانانو ته پاک خدای لوړ استعداد ورکړی دی او هغوی کولای شی چې که د سمون او ارتقا لاری ولټوی، پرسمه لار ولاړ شی او هغه عوامل په کار واچوی چې په هغو سره پرمخ تللی کسانو بری حاصل کړی او خپل محیط، ټولنه او هیواد ئې د بد بختیو اجتماعی پریشانیو او هر راز آفتونو څخه ساتلی دی نو شک نه سته چې دغسی ټولنه او دا راز د مترقی فکر او اصلاحی نظر یې خاوندان ژر تر ژره لوړیږی او سم ورسره خپل اجتماعی او ملی ژوند هم لوړ وی او د ارتقا څخه پوره ګټه او نتیجه اخلی.

خو هر هغه وخت چې دغه انسان چې تار ئې په نړۍ کې خوزره کلن مدنیتونه ثبت کړی او موږ ئې اوس هم د سترو مادی او معنوی انکشافاتو، ساینسی او تخنیکی پرمختګونو شاهدیو د نا پوهۍ په تیاره کې پاته شوی، لوړ و مدنی خویونو او مترقی افکارو ته ئې شاور ګرزولی. ژوند ئې د فعالیت، کوښښ مجاهدی او مبارزی په عوض کې په لټې، عیاشی خود خواهی او ځانځانی په چټې خیالاتو تیر شوی او زیاتو خلکو ئې فساد و نو او یو د بل د پښو اچولو ته ملا تړلی ده نو بیا هغوی هم ترشا پاته او ټیټ شوی او د خواری او پریشانی سره مخامخ شوي دی، او ترڅو پوری چې خپل دغه وران حالت ئې نه دی بدل کړی، او ارتقا ئې پلانونه ئې نه دی عملی کړی ترهغو پوری په خپل زاړه حالت پاته شوی، فردی او اجتماعی ژوند ئې هم ورځ په ورځ خراب شوی دی.

د سمون او ارتقا پرلور تلاښ د یوه ژوندی ویښ او غیرتمن ټولس خاصه او د هغو خلکو د پوهی تنویر او لوړ و اخلاقو نمونه ده او د اسی بشری افراد او ولسونه ضرور لوړیږی چې د پرمختګ عزم وکړی او د خپلو هیوادو و د انو لو او د خپلو ټولنو مادی او معنوی پرمختګ ته ملا وتړی او په خپل دغه ستر کار او لوړ هدف کې ټوله په ګډه زیار وباسی او پر ځانونو ستر یاوی راولی.

په تیره بیا په اوسنی پرمخ تللی زمانه او نیک مرغه عصر کې چې اوسنی ساینس او تخنیک نړۍ سره نژدی کړی او د انسانانو تر منځ یې نژدې ارتباط ټینګ کړی او حتی ترشا پاته ټولنی د مترقی هیوادونو ورځنی تحولات هر ډول مادی او معنوی پرمختګونه او انکشافات په خپلو سترګو وینی او یا د هغو خبرونه په راډیو ګانو کې اوری او یا یې په ورځپاڼو

[لوستل یې د دوهم مخ کې]

[د لومړی مخ پاته]

دانسانانو ژوند د . .

او مطبوعاتو کی لولی نو په دغسی حالت کی هیڅ امکان نه لری چی د شاپاته انسانان دی د دغه حالت څخه عبرت وانه خلی او د هغو په څیر دی په خپل ژوند کی اصلاحات ونه کړی او د پرمختګ لاری چاری دی ونه لټوی د خوښی ځای دادې چی نن زموږ پر هیواد هم د ارتقا او سمون دوره راغلی ده اوس زموږ د ژوند په ټولو برخو کښی یو زیات شمیر ارتقایی پروژې او اصلاحی پلانونه د بشپړیدو په حال کی دی نو په دغسی یوښه حالت او حساس موقعیت کی زموږ ټولو خلکو ته په کار ده چی د هیواد په دغو انکشافاتو او اصلاحاتو کی برخه واخلی په خپلو ملی او اجتماعی چارو کی د هیواد په ګټه او د عمومی مصالحو په ټینګولو کی ګډون وکړی راسی چی په ګډه خپل ملی پرمختګ او دؤلس سمون ته پاملرنه واړوو درځی چی د هیواد د خدمت او ټولنی د اجتماعی چوپړ د لاری خپل ملی مسئولیتونه لیری او هیواد د مادی او معنوی لحاظه پرپښوو درؤ او په نتیجه کی پدې ډول موږ د اوسنی پرمختګ څخه پوره ګټه واخلو .

ښاغلی ایوبی

پرادبیاتو یوه کره کتنه

لیکونکی ، م عطائی

د هنر په وحشی کېدو کښی

د سمبولیسم رول

د سمبولیسم هنری مکتب د نونسمی پیړۍ سر پر له څرخوونکو جریاناتو وزیږاوه ، او د اجتماعی ګرداونو په مدوجزر کی یی د عروج او نزول مرحله پای ته ورسېده .

څرنګه چی سمبول په لغوی معنی د یوشی عوض او قراردادی علامی ته ویل کیږی نو د اهنری روش ته سمبولیسم وایی .

دا مکتب د رومانتیزم د تجزیی سره له هغه څخه راوزیږی دی ، او هغه تښته او له اجتماع څخه انزوا چی د رومانتیک هنرمند اساسی تلن لاروه سمبولیک هنرمند په څو چنده قوت د لفظ او معنی په لحاظ په پردو کی پرله وپیچله .

فرانسوی سمبولستانو د [احساساتو اصالت] په پیروی داسی یوه د اغراق لار واخیستله چی نه یوازی یی قراردادی او تعاملی سمبولونه پسی زیات کړه بلکه د شاعر د روحی او نفسیاتی کیفیاتو اظهار یی ونا پیژندونکو اشاراتو ته تسلیم کړ .

په قرار دادی او تعاملی تشبیهاتو کی د ګلاب سرخی د ښکلی پیغلی له شونډو سره تشبیه کیږی او د سپوږمۍ سره یی د مخ سپېنوالی او بشاشت سمبول کیږی خو په دغه هنری دوره کی د مسایلو شکل واوښت او هر څه چی وه د یوه لیونی شاعر د احساساتو تابع شوه او د دې احساساتو د اظهار کلمات هم هغه اشارات وه چی یوازی پخپله شاعر په پوهیدی نو لسمه پیړۍ کی چی د نړۍ سیاسی او اجتماعی وضع د لوی بدلون په غیږ کښیوتی وه اروپایی هنرمند د یو شړل شوی ، فراری او د یو جامدی کرختی دنیا داری په غلامی راګیر انسان حیثیت درلود .

دده حساس او ځیرك تخیل دیو نوی مرئیتوب څخه په تښته او شکست دو نه وحشی شو چی حتی خپل ځان یی هم ورك کړ.

ددې هنری مکتب په مؤسسینو کی (شارل بودلر) دواقعبینی او واقعیت پالنی په مخالفت په لوړ آواز ناری کړه چی «د واقعیتونو توصیف او تصویر دسمبولیستانو کار نه دی بلکه دا کار په بلژیکیانو او دیو کراتانو پوری اړه لری)

ددې مکتب له متفکرو مغزو څخه یو سړی چی د (کلماتو جادو) ته په خاص ارزښت قایل شوی دی وایی «یو بی معنی عبارت چی ښکلا ولری په مراتبو تر هغه عبارت ښه دی چی زیبایی ونلری او واقعیت وی»

په سمبولیسم کی دانسان فکر او اندېښنه دواقعیت او منطق اساس ندی بلکه واقعیتونه باید دا حساس او تخیل پر پایو ودریږی.

هغه مهال چی د سمبولیسم د مکتب د پیرو شاعر په چارښاخه د طبیعت خواته بادی شروع وه نو نړی بیا هم واقعیتونه نه سره پر له پیچلی بلکه واقعیت پالونکی تابلو وګورو او هلته دا وینو چی د چونګښی د پښو پردی دیوی پیغلی له تیو سره تشبیه شوی وی نو دا باید موږ ته تعجب پیدا نکړی بلکه دا د هغه د هنریو شاهکار دی.

په مجسمه سازی، موسیقی او هر لطیف هنرؤ کی دا کار عملی بڼه لری. په شعر او لیکلی ادب کی هم دا کار یو هنرؤ او نو دا وجه ده چی نن هر څوك د دغو سمبولیك اثارو په لیدو نه یو اځی د هغه سره الفت نه پیدا کوی بلکه نفرت ځینی کوی.

دیوه سمبولیك شعر نمونه

(د شاعر: شارل بودلر اثر)

(پردی)

آمر موز سړیه! څوك ډیر در باندی ګران دی؟ پلار؟ مور؟ ورور؟ او که خور؟

«نه پلار! نه مور! نه ورور! نه خور!»

خپلوان دی څوك دی؟

«تاسی دا سی خبری کوی! چی د هغه معنی تر اوسه ما ته مجهله ده»

«وطن دی چیری دی؟»

نه په پوهیږم چی چیری دی!

«د ښکلا سره څنګه یی؟»

«د میل له مخی د هغه جاویدانی موجود سره علاقه لرم:»

«د طلا سره څنګه یی؟

«د هغه څخه می ډیر بد راځی:»

«آه: نو د څه شی سره علاقه لرې آپردی سړیه؟»

او ریځی را باندی ګرانی دی؛ ... هغه او ریځی چی درومی: ... هلته او ریځی .. تعجب پاڅونکی او ریځی: ...

په کامل متانت دا منظره لیده او ورو ورو د واقعیت پالنی مکتب دا سر پر له څرخونکی جریان په ځان کی منحلاوه څو دادی نن هغه هنری لیونتوب خپل ځای کاملاً خوشی کړی خو په ادبی تواریخو کی یی موږ لیونی زمزمه او آهنګ نسو هیرولای.

څرنګه چی یورپ لکه په نورو جریاناتو کی چی هر څه ساتی نو په دغه هنری مکتب پوری مربوطیی هم اثار په نندارتونو او ګیلریو کی ساتل شویدی

د ځوان مسئولیت لیکوال

دهری ټولنی پر مختګ، وروسته پاته والی، رفاه او دربدری دهغی ټولنی د افرادو دفکر او ذهنیت سره اړیکی لری.

انسانان کوښښ کوی چی د خپل فکر او ذهنیت په چوکاټ کی دننه یوه ټولنه جوړه کړی پدې صورت کی ددهری جامعې غړی ذهنی تکامل ته رسیدلی وی او فکری انکشاف کړی وی ښکاره خبره ده چی دهغی ټولنی دژوندانه طرز او ډول به مترقی او پرمختللی وی.

په لنډ ډول د اجتماعی سیستمونو د جوړیدو ډول په هره ټولنه کی د افرادو دذهنیت او طرز تفکر محصول ګڼل کیدای شی.

روښانه حقیقت دی چی یو مترقی انسان د خپل مترقی ذهنیت او فکر په رڼا کی مثبت کام اخلی او برعکس بی علمه کسان همیشه د منفی حواد ثو ستر او مؤثر عامل وی نو ددې لپاره چی په خصوصی ډول هر هیواد او په عمومی ترتیب انسانی نړۍ دلوړی، ناروغی فقر، بیکاری، دربدری، خونړیو جنګونو او نورو بشری مفاسدو څخه نجات پیدا کی دا کار دیوې داسی اساسی مبارزې روی کارول ایجابوی چی اصلی دبشری جوامعو د افکارو په روښانولو متکی وی.

دا مبارزه وانسانی آرامی نړۍ ته درسیدلو مهم رکن دی او دهری ټولنی مترقی روشنفکره لیکوالان ددې ستری بشری مبارزی دبیرغ او چتولو په لاره کی تاریخی مسئولیت لری.

موږ د تاریخ له حوادثو نه دا نتیجه اخلو چی په هره اندازه چی په بشری ټولنو کښی دغه ستره انسانی مبارزه د خپلو اصولو او قوانینو په ساحه کی دننه تعقیب شوی ده دهغه اجتماع دژوندانه قاموس څخه دلوږی، ناروغی بیکاری او نورو اجتماعی مفسدو توا او فلاکتونو ناوړه کلمات لیری شویدی.

خو داستره مبارزه او لویه کامیابی پوره ایثار او فداکاری ته اړه لری چی دا فداکاری بیا هم د حساسو ملی لیکوالانو تاریخی وظیفه ده.

چه د فداکاره لیکوالانو ایثار دا ایجابوی چی د دغه سیلاب څخه څرنګه د خپل مغز د سوځلو او دزړه د وینو په خوړلو سره د وطنوالو د صحی ژوندتأمین په لاره کښی د اجتماعی مصالحو پر اساس برخه واخلی.

«او وبه مخ کی»

موږ په تاریخ ایمان لرو او د هری تاریخی پدیدی څخه پند اخلو تاریخ موږ ته دا درس راکوی چی د هر قوم او ملت پوهانو او د قلم خاوندانو چی د خپلو شخصی اغرضو د مخ ته بیولو ملی منافعو د نه په نظر کی نیولو او د خپلو منافعو د ساتلو له کبله په حقایقو پرده اچولی ده هغه هیواد د آرامی او هوسایی مخه نه ده لیدلی وایی:

(د حقیقت اظهار تریخ دی مگر ثمر یی ډیر خوږ دی].

که یو ځوان لیکوال په پورته اصل ایمان ولری او د خپل وطن په وړاندی د فداکاری او ایثار روحیه پخپل ځان کی تثبیت کړی شك نسته چی دا لیکوال خپله تاریخی وظیفه سرته رسولی ده.

زموږ وډیرو هیواد والو ته دا سوال په مخ کښی پروت دی (ولی موتر او سه دښه پوره بشری استعداد او طبیعی ښیگڼتیا سره سره یوه دوې نه شوی؟... د دنیا نور ؤلسونه سپوږمۍ ته ورسیدل مگر موږ تر اوسه غلمینی ډوډۍ ته احتیاج یو؟!

زه شخصاً د پورته خبرو د تحلیل په رڼا کی داسی جواب ورکوم.

ای د ځوان فکر او قلم خاونده. ستا وظیفه ډیره درنه ده!

ځکه ستا لوی مسئولیت او درنه وظیفه هر ډول ربړ او تکلیف ایجابوی - مگر پدی هم وپوهیږه چی د خپلی وظیفی په سرته رسولو سره د تاریخ په ځلاندو صفحو کی د سرلوړۍ لقب گټی.

«[فریاد عطائی]»

د رابیندرانات ټاگور اثر د عمر زی ژباړه:

ډیوه

د یوه آرام رود پر غاړه می د جگو او گڼو بوټو په منځ کی ورته وویل:

ځوانی نجلی! دا ډیوه چی تر پوړنی لاندی دی نیولی ده چیری ئې وړې؟

زما خونه خالی او تاریکه ده ډیوه دی ما ته په پور را که، خپلی توری سترگی ئې را پورته کړی زما وخواته ئې متوجه کړی او دا ئې راته وویل:

راغلی یم کله چی د لمر وړانگې د غرب په افق کی پټی سی زما ډیوه به درود د اوبو پر مخ لمبی وکی....

زه پدی جگو بوټو او شنو وښو کی یوازی ولاړوم او د ډیوې لړزانه روښنائی می چی بیهوده د اوبو پر سر رهی وه کتله

❖❖❖❖

د شپی د سکوت په حال کی می بیا ورته وویل:

ځوانی نجلی! ټوله ډیوې بلی سوې نو ته د خپلی ډیوې سره چیری ځی زما خونه خالی او تاریکه ده ډیوه دی ما ته په پور را که توری سترگی ئې را واړولی او یو آن په چرت کی پاته سوه وروسته ئی راته وویل: زه راغلی یم چی ډیوه و آسمان ته هدیه کړم.

و دریدم او د دې ډیوه چی په فضا کی بی ضرورته سو ځل کیده تماشا می وکړه.

✡✡✡✡

که می کتل د دې وړو کی ډیوه په نورو ډیوو کی ورکه سوه [هغه خونی چی تاریکی وې هغه هغسی تاریکی پاته سوی او د دې ډیوه به هر ځای بیهوده لگیدل.]

د کندهار یو ښکلی بڼ

زه د سردې بڼ او د باباولی صاحب د دهلی بڼ او یا د ارغنداو د زاړه پله په سروړ کوټی بڼ کی یا منزل باغ او د ارغنداو نوری باغچې او بڼونه یادوم، هو دغه بڼونه هم ځانله صفتونه او کیفیتونه او ښکلاوی لری او د هر یوه ځانله مقام او موقعیت او کیفیت دی او بیل بیل ارزښتونه لری او زه هم ورته قائیل یم خو زه بل بڼ یادوم چه د رنګارنګ ښکلو ګلانو او د رنګارنګ ژوو او مرغانو د لیدونه ورتیریو د هغه باوقاره خنده رویه خوش اخلاقه او خوش مزار خاوند ئی چه د دغه بڼ زیبائی ئی لاورپسی ډیره کړی ده زه که د دغه شخصیت تعریف او توصیف هر څو مره وکړم په ارزی او لا به هم کم وی خو خبره به وکړه شی او د درنو لوستونکو تلوسه به داوی چه ژر د دې بڼ د نوم او نښان نه خبر شی ښه دادی وایم:-

د ابښکلی بڼ د سید عبدالرحمن شاه د کوټی بڼ دی چه د

ښاغلی سید عبدالرحمن شاه په خپل شخصی بڼ کی د روزل شو وګلانو په منځ کی

✡ کندهار په نوی ښار کی په داؤ دواټ کی واقع دی ددې بڼ دشمال اوغرب نه دوی لاری او دروازې دی اوتل پرانیتی دی او هیڅ پهره دار پکښې نشته او نه دکومی اجازه نامی ضرورت شته که چا کندهار لیدلی وی اود کندهار تاریخی اود لیدنی وړ ځایو نو لټه ئی کړی وی هغوی به ضرور داغا صاحب بڼ هم لیدلی وی اوهلته به ئی چای شربت، ډو ډۍ ضرور نوش جان کړی وی اوکه دا نه وی نو دآغا صاحب نوم خو به ئی خامخا اوریدلی وی، په کندهار کی رشتیا چه اوس په دې نژدې زمانه کی هم ښه نامتو شخصیتونه چه دعلم اوفن قلم اوشاعری خاوندان ؤه او یا لکه د ښاغلی مرحوم موسی خان غوندی دښې ځوانۍ اویا دمرحوم رئیس عطا جان غوندی دفیاضی اومهمان نوازی او یا د غلام فاروق خان «کاکو» غوندی مهمان نوازی اوصراحت لهجه ئې لرل تیر شوی دی چه رشتیا دغسی شخصیتونه دکندهار دښار حقیقی ښکلا ګڼل کیدی شی، خودادی ښه دی سید عبدالرحمن شاه لا اوس هم پکښی شته.

دافغانستان دبل ولایت یا دبل هیواد نه که څوك راسی نودا دلیدو وړ بڼ او دغه شخصیت چه وګوری ګمان به وکړی چه د کندهار ګرد خلك هم دومره مینه محبت او مهربانی لری.

سید عبدالرحمن شاه دکندهار دولس ښه نمایندګی کولای شی.

دسید عبدالرحمن شاه باغ ته چه کله ور ځې نو په غربی دروازه وردننه سه:

هیڅوك هم مانع نسته چه په دروازه کی وردننه شی نو دګلانو یو یو بوټی په یو دیوالګی خور شوی دی اوپدغه دیوال په یو جلی ښکلی قلم په پښتو داسی لیکل شوی دی:

(ښه راغلاست! ګرانو میلمنو)

چی لږ ورتاوسی نو به دښکلی شګو فرش په غوړیدلی میدانی اوښکلی په رجه جوړی لاری چه په سرو خښتو فرش دی درښکاره شی او رنګ رنګ ګلان او رنګارنګ مرغان او ژوی به وګوری یا په حوض کی رنګارنګ مرغاوۍ اوقوتړی ګرځی هغه پلو دشادوګۍ او هوسۍ او غرڅونه نیولی ډیر حیوانات اومرغان شته یا دکوترو عجیبه قسمونه توری بلبلی چه ما چرته هم ساتلی نه وی لیدلی خو دلته شته دی.

دامرغان پخپلو ځایو کی په ډیر ناز ونعم ساتل کیږی.

آغا صاحب دامرغان راګیر کړی دی او ددوی ازادی یې ضرور ورصلب کړی ده.

خو ورسره ئې ډیر په مزه خوندی کړی هم دی.

آغا صاحب دځینو کسانو په شان نه دی چه دخپلو شیانو تربیه اوپالنه نه کوی اوخبر ئې نه اخلی اغا صاحب په خپلو مرغانو دورځی څو واره ګرځی راګرځی اوهغو ته رنګارنګ خوراکونه ورکوی.

چاته دانی اوچاته واښه او چاته غو ښه اوماهی ورکوی ښه یی ماړه اوپټ ساتی او داسی پالنه یی کوی چی څوك خپل بچی هم دغسی نسی ساتلی اوپاللی.

دی پلو چی وګوری یوه ښکلی کوټی په نظر کښی درځی چی ډیری خونی اوګل خانی لری اکثره یی دګلانو نه ډکی دی.

اغا صاحب رنګارنګ اوقسما قسم خارجی او داخلی ګلان لری.

شبو، پتونی، چهری، ګلابونه، اونور بی شماره قسمونه ګلان لری.

ګلان خو به بل چیرته هم وی ځکه چی د

کندهار خلك اکثره د ګلو شوقیان هم دی او د کندهار آب او هوا د ګلو له پاره لویره مساعده هم ده .

خو پداسی ترتیب او سلیقه چی سید عبد الرحمن شاه اغا او د هغه ځامن ګلان روزی او ساتی یی د بل چا دوسه نه ده پوره او یوه مور هم په خپل بچی دومره پام نسی کولای .

اغا صاحب سره د خپلو ګلانو د روزی او لمر پوره خیال لری او ګلان د یخنی ، ګرمی څخه ساتل کیږی .

البته د سردی او صنوبر ونی هم شته خو اغا صاحب هغه دومره سر لوړی ته نه دی پریښی چی د چا د سره دی ورته خولی ولویږی .

البته ښکلا یی ورساتلی ده د باغ په منځ کی څوکی پرتی دی سړی چی ورداخل شی د جناب اغا صاحب او یا د هغه ځامنو یا نمسیانو او نورو خپلو له خوا استقبال کیږی او د میلمه لویر ښه هر کلی کیږی که ګلان څوك ګوری د اغا صاحب د خپلو انو ځامنو نه به ورسره وی او په ډیره ښه وجه به تشریح ورکوی او بیا چی میلمه د ګلو او حیوانانو په لیدو موړ شو نو راځی په څوکو یو کښینی او اغا صاحب پخپله د خپلو میلمنو مهمانداری وی چای راځی او رنګارنګ میوی چاکلیټو نه او قند ورسره وی او که څوك شربت څکی هم تیار وی .

د اغا صاحب بن او دیری ته ړندیان هم راځی او شیخان هم غټان او لویان هم راځی او واړه ماشومان هم په چادرو کښی مخ پټی ښځی هم راځی او د نوی فیشن د آزاده ځوانی مخ لوځی پیغلی هم ، غرض هر څوك او د هر خیال او شکل خاوندان ورته بی قیده راتللی شی .

شتمن او غریب د واړه په هم هغه یوه دروازه راځی او ډیر ملنګان هم د خپل ګند او کچکول سره ، اهل هنود او د موسیقی نوازندګان هم راځی او خوشاله تری ځی .

جای نمازونه پراته دی که څوك لمونځ ګذاره وی لمونځ کوی هم کیدای شی او که څوك چای چلم څکوی هم موجود شته دی . ما د ایران ، عراق او هند ، پاکستان او د مملکت د نه ځینی تفریح ګاوی او ښونه هم لیدلی دی .

خو کوم کیف او خوند چی د سید عبدالرحمن شاه په بن کښی شته دی بل چرته به ګمان نه کوم چی وی .

د آغا صاحب د امزه دارژوند د دغه کورنی د مینی محبت نه ډك اخلاص او الفت ، مینه مدار او د هر چا سره مهربانی کول چی سړی وګوری حیرانیږی .

دا مهمان نوازی او هر چا سره مینه او مهربانی کول چی هم به ګلان او د ښکلا نور مناظر وربښی او هم به د خپل سخاوت اثبات ورته کوی زما په ګمان یو نادر غوندی به وی او دا د دغی بختوری کورنی په نصیب شوی ازلی برخه ده .

مبارك دی وی !!

آغا صاحب خو مره چی د خپل اصلی سیادت رشتنی رنګ ساتلی دی همد غومره ئی د افغانی او پښتنی کلچر صبغه هم خوندی کړی ده .

موږ د ده دا حق بولو او د یو لیکوال په حیث دا خپله وظیفه بولم چی د دغسی شخصیتونو چی د خلکو د خوښی له پاره خپل ژوند وقف کوی باید شخصیت وساتل شی او خلکو ته ورو پیژاندل شی او تقدیرسی .

زما د اخوکرښی د سید عبدالرحمن شاه آغا د بن د لیدونه د هغه تاثیرات او منظر کښی ده چه ما لږ څه وخت هغه بن او د آغا صاحب عامه مهربانی لیدلی ده .

(سیال)

پښتو کونکی [ټپاند] [هنر په څو کرښو کی]

د هنر منداو هنر هدف

شوپنهاور (د المان نامتو فیلسوف په ۱۷۸۸ - ۱۸۳۳ کی د هنر د هدف په باره کی وایی :

طبیعت په استثنا ئی توګه ځینی خلك چی دهغوی د نوع منظره زموږ ستایش او جذبه رپاروی وموږ ته عرضه کوی، د هنر خاصه موضوع داده چی غالباً پدې باره کی د طبیعت نقصونه جبران کړی او دهغه هدف د وجدانی تمایز اتو تسهیل دی چی غالباً بیله هنره د هغو د عهدی څخه نسوای وتای .

هنر مندیو واسطه ده د طبیعت په منځ کی چی هغه ته وایی : [دغه دی هغه څه چی تاسی غوښتی دی چی پوره یی کړل او دغه دی هغه څه چی په هغه کی دی عیب په کار کړیدی] اولیدونکی چی هغه ته وایی : [ستا ستر ګی د هغه څه د فرق د کولو د پاره چی واقعاً په نړۍ کی جالب او ښکلی دی د لیدو قدرت نلری، زه خپلی ستر ګی وتا ته په پور در کوم وګوره] پدې واسطه سره دی چی هنر باید د هری ریشتی چی وی باید یو هدف او فقط یو هدف د خپل نظر منظور وګڼی او هغه د جاویدانی صورتونه ښکار کول دی چی افرادیی فقط ناچیزه نمونی د هغه حسابل کیږی .

په دې وجه دی چی د معماری خاص منظور د دغو نیرومندو قواو اصلی جوهر ښکاره کول دی چی د مصالح د ثقل او مقاومت قوه بلل کیږی .

هر تزئین او سنګار چی بی فائدی وی پدې مورد کښی د بدسلیقګی څخه حکایت کوی د باغبانی فن باید د نباتاتو د نوعیت د جوهر طبیعت مشخص کړی .

یو مجسمه جوړونکی باید نه تغیر یدونکی صورتونه د ډول ډول حیوانا تو او انسانانو په هغو رویشو چی د هغو احساساتو او عواطفو په وجود راوړیدی ښکاره کړی .

ستاسی پدې موضوع سره تشبه هدف لری پداسی حال کی چی مناظر او رنګونه د خپل هنر د ښکاره کولو د پاره پکار وی .

د شعر متنوع صورتونه هم باید د حده څخه لوړ ولاړ شی او نه یوازی جسمانی انواع بلکه هر قسم طبایع احساسات او عواطف باید ښکاره کړی .

او هنر په معنی د لوړ هنر موسیقی ده .

دغه هنر نه باید د ارادی تجلیلات ښکاره کړی او د ټولو د ستر ګو د پاره ئې ونیسی بلکه کولای شی او باید بخپله اراده په خفی ترین، غریزی ترین او عمیق ترین تمایلاتو باندی تشریح کړی .

[بقیه ۱۰ مخ کی]

۲۹۶ فلزی سکې د کندهار د نیش د علاقه داری

د درهٔ نور د کلی په یوه کرونده کی لاس ته راغلی

هغه فلزی سکی او پوخ خاورین لوښی چی د کندهار د درهٔ نور د سیمی د یوې کروندی څخه لاس ته راغلی

منبع زیاته کړه چی د درهٔ نور سیمه د کندهار د نیش د علاقه داری د تاریخی سیمی په حیث شهرت لری او د کندهار تاریخی منلو یگاه هم د دغه خاکریز له مربوطه عمده دی

(ط)

په نیره میاشت کی ۲۹۶ فلزی سکی چی د لوړی تاریخی دوری د پیژندنی نمونه ده، د خاکریز د ولسوالی د نیش د علاقه داری د درهٔ نور په یوه کرونده کی لاس ته راغلی دی.

د خاکریز ولسوال ښاغلی عبدالحمید وویل:

سکی د ښاغلی حاجی گل [ایوبی] لخوا په داسی حال کی چی په خپله کرونده کی ئی د تعمیر جوړولو د پاره مځکه کیندل پیدا شوی سیکی په یوه خاورین پاخه لوښی کی وې.

ښاغلی (ایوبی) دغه سکی د کندهار موزیم ته وبخښلی چی د مربوطو مقاماتو له خوا په ډیر تشکر سره ومنل شوې.

د کندهار د موزیم یوې منبع وویل:

سکی د تاریخی مجهولو اشکالو او لیکنو درلونکی دی چی د تاریخی خصوصیاتو د پیژندنی لپاره کابل ته لیږل کیږی.

ښاغلی حاجی گل ایوبی

د ۹ مخ پاته

د هنرمند او هنر.....

په هنر کی ښوغ مسلماً د دې څخه عبارت دی چی په غریزی توگه سره د فرد نوع تر نقاب لاندی په یوه نگاه سره تمیز کړی او د هغه پټی ښکاره کړی.

او جوهریی په مستقیم او سهلترین وسائلو په ښکاره او ځلانده ډول وښیی.

هنر که هر څومره ساده تر وی بیا هم قوی تر او نیرومنده تر ه دی هر ډول ورانی او پیچیده گی چی بی فایدی وی د بی ذوقی او بدسلیقی څخه حکایت کوی

تجزیه او تحلیلونه چی معتدل قضاوت د هنر د واقعی ارزش د پاره میسر کوی د انسانی ژوند د هر ډول ممکنو رویشو د تشخیص لپاره لاره پرانیزی.

په کندهار کی د بوټ

جوړولو صنعت

بوټ سازی د کندهار ولایت یو دقدر وړ لاسی صنعت دی چی تقریباً د ۶۰ کولو راهیسی په کندهار کی رواج لری اوزیات شهرت یی هندلی دی لومړی ځل یی کسب کاران محدود او یوازی یی خو تنو کارکاوه

اما څرنګه چی کرار کرار ودی کارته دخلکو مراجعه ډیره او تقاضایی زیاته شوه یعنی ډیر وخلکو په پښو کول او خوښ یی در لودل نو د کار کونکو شمیر یی زیات او اوس موږ وینو چی د کمیت او کیفیت په لحاظ لوړه درجه لری .

او یو شمیر تقریباً په اټکلی ډول وزرو تنو ته رسیږی دې بوټو سربیره پردې چی په کندهار کی یی خلک ډیر خوښوی په ټوله افغانستان کی ډیر شهرت لری لیکن اوس یی لیلامی بوټو و انکشاف ته څه صدمه ورسولی ده .

د بوټو ډولونه

په کندهار کی ډول، ډول بوټو ته سته چی د بیلو بیلو ډولونو پر اساس خاص نمونه لری چی موږ یی خو مشهور رقمونه دلته رانقلوو .

[۱] سلپر .
[۲] نیم بوټی .
[۳] چنګکی
[۴] چوټه
[۵] چمپل
[۶] کواټی
[۷] دماسی بوټ
[۸] جلپوری

د بوټ د رنګ او څرنګوالی انتخاب د فرمایش په لومړی سرکی پخپله په رانیو نکو پوری اړه لری .

د کار مواد

د بوټ جوړولو د پاره څرمن او نور لوازم یی لکه - نعل، تنی (بندونه) او داسی نور سامان له خارجه څخه راوارد یږی .

څرمن یی هم دوه ډوله ده
[۱] دانه داره .
[۲] ساده یا بی دانی .
تلی [د بوټ کښته خوا] یی د یوی پنډی څرمنی څخه چی گومیښی

استاد داد محمد بریخ

څرمن یی بولی ور اچوی د دې کسب بیله بخیو څخه چی په ماشین رغیږی نور ټوله کاریی په لاس سرته رسیږی

د کار اندازه

د اټکل له مخی په کندهار کی تقریباً په کال کی سل زره جوړی بوټونه جوړیږی چی اکثره پخپله په کندهار او یا نورو ولایتو کی خرڅیږی

د بوټ بیه

د بوټ جوړولو او بیه له استاد او کاست تر یوهی علاوه د څرمنی په ډول او څرنګوالی پوری هم اړه لری سلپر له [۱۸۰] څخه تر «۲۸۰» افغانیو پوری او نیم بوټی د «۱۷۰» څخه تر «۲۸۰» افغانیو پوری بیه

لری د بوټ بیه د فرمایش په وخت کی ټاکل کیږی او که فرمایش نه وی د رانیونکی او خرڅونکی په جوړه پوری اړه لری

د بوټ جوړولو

وسایل:

د بوټ جوړولو څرخ (ماشین) چکش یو ډول خاص غالب، برنده، کنده، مشته نیره، سندان، یوه صافه ډبره، غیچی او داسی نور دی.

مشهور کاسبان:

د بوټ جوړولو کار دوی برخی لری چی هره برخه ئی استادی او زده کړه غواړی لومړی د بوټ د مخ جوړولو کار (روی رسانی) چی موږ یی په اصطلاح بادام رسانی بولو او وهمه برخه ئی د تلی کار چی پخپله د بوټ سازی په نامه یادیږی چی هر یو یی جلا استادان لری د دې بوټ لوړی رواجونکی په کندهار کی استاد غلام محی الدین فیض الله ماما استاد حاجی گل او داسی نور دی په اوس حال کی د راغلو معلوماتو له مخی په بوټ سازانو کی مشهوره کاسبان استاد حاجی گل محمد او استاد داد محمد [بریڅ] او استاد حاجی شیر محمد نامان دی او په بادام رسانانو کی مشهور کاسب ئی استاد عصمت الله دی چی دوی د ډیر ذوق او کافی لیاقت خاوندان دی چی موږ ته د معرفی په لړ کی یوازی د استاد داد محمد بریڅ عکس په لاس راغلی او چاپ ته موو سپاره یوه خبره چی اوس په پای کی راپیا د سوله هغه د کندهار په اصلی ساخت بوټ کی د لرگیو د یو ډول خاصو تختو کارول دی چی دا کار سره د دی چی ځینی خلک یی نه خوښوی بیا هم د کندهار د خواری کښو او زیار ایستونکو خلکو د ذوق سره ډیر برابر دی یعنی ډیر کلک یا د دوی په اصطلاح (اندام داره) وی داوو د کندهار د بوټ جوړلو په باره کی زما لږ معلومات.

[ښاغلی فدا محمد]

د لویانو خبری

خواری او بدبختی:

د خواری او بدبختی په وخت کی سړی خپل حقیقی دوستان پیژنی. [بلزاک]

خواری او ناداری د سړی فکر ته تربیه ورکوی

[ویکتور هوگو]

که کیدلای ما به دعا کولای چی په زحمت اور بړاخته شم څو په آخر کی می ډیر راحت په نصیب شی

[یونیان]

داسی کسان شته چی نن غفلت کوی او سبا خپله خواری د آسمان او یا زمانی د کاږه رفتار څخه بولی.

[بی یر لورو]

د بشر ټوله بدبختی د طبقاتی امتیازاتو څخه پیدا کیږی.

[بی یر لورر]

څوک چی بدبختی و نه پیژنی د ښادی په لاس راوستلو او د هغه په ساتلو هم نه پوهیږی.

[داوید وایت]

د مصیبت پروخت ژړا داسی مثال لری لکه پر شاړه مځکه چی باران واوری.

[فرانسوا کوپه]

سردار محمد [زهیر]

د ملګر و پیاد

د کندهار په تاریخی ښار کی د پخوا زمانو څخه تر اوسه علم و ادب، فضیلت، شجاعت، کمال و هنر په لوړه پیمانه لیدل کیږی چی ډیر لوړ عالمان، ادیبان، فاضلان، او مجاهدین دی خاوری روزلی او ټولنی ته یی وړاندی کړیدی.

په اوسنی عصر کی هم ښه ښه لیکوال د لوړ فکر او پخی تجربی خاوندان په کندهار کی سته چی له هغو څخه یو محترم فاضل ښاغلی حاجی حبیب الله [سرپاس] دی چی د ډیرو وختو څخه زموږ سره قلمی همکاری کوی.

دی یو بادیانته، صادق او د قلم خاوند دی چی زیاتره اجتماعی، ادبی، او علمی مضامین یی تاسو په کندهار مجله، طلوع افغان او نور وورځپاڼو کی لوستی وی.

دا دی دده لنډه سوانح چی ښاغلی [زهیر] راوستلی ده خپرو او هیله کوو چی ښاغلی سرپاس زموږ سره خپلی همکاری ته نور هم دوام ورکړی.

«اداره»

ښاغلی الحاج حبیب الله [سرپاس] چی د دوی د پلار نوم مرحوم عبدالرحمن او نیکه یی محمد غیاث نومیدی په ختیه [بارکزی] دی.

د دوی د پلار و نیکه اصلی مېنه د ارغستان د [کڅی] کلی ؤ چی د هغه ځای څخه د لوی احمد شاه بابا په زمانه کی خواجه علی بابا ته راغلی او له هغه ځای څخه د ښاغلی سرپاس پلار د کندهار ښار ته راتلل شویدی.

خو څو عمر وروسته د ښاغلی سرپاس مرحوم پلار کابل ته تللی ځکه چی په شاهی ګارډ کی منصب دار و.

ښاغلی حاجی حبیب الله (سرپاس)

ښاغلی سرپاس په ۱۲۴۸ شمسی کال هوری په کابل کی وزوکیدی او په ۱۲۹۶ کال کی بیرته کندهار ته راغی چی ښاغلی سرپاس تر اوسه په کندهار کښی اوسیږی.

ښاغلی الحاج حبیب الله خپل تخلص سرپاس ټاکلی دی دا سرپاس په اصلی کی د بارک نیکه په زامنو کی د یوه زوی نوم ؤ چی دوی د هغه د اولادی څخه دی.

سرپاس چی اصلی معنی

یی په [سرلوړی] راځی دغه نوم د خورشید جهان په تاریخ او د ۱۳۱۳ کال د کابل د سالنامی د بارکزو په سلسله کی د [سرباز] په لفظ سره راغلی دی.

چی دغسی د سرباز نوم بیا په وطن کی په [سرپاږی] سره اوښتی دی چی ښاغلی الحاج او د دوی نورو وروڼو ښاغلی حاجی نصرالله او

حاجی عبدالله او ښاغلی فیض الله تر ډیره وخته خپل فامیلی نوم دغه سرپاږی یاد اوه او اوس یی بیرته په

سرپاس اړولی دی خو دا چی د ښاغلی سرپاس لوی نیکه مرحوم ملا محمد اکرم اخوند د لوی احمدشاه بابا د دربار یو دینی او علمی او مذهبی مشاور او د کام مشرؤ.

لدې څخه دا معلومیږی چی د دوی کورنی یوه علمی او عرفانی کورنی وه.

ښاغلی سرپاس چی اوس د ۶۴ کالو او د دروزامنو ۲ لوڼو او ۱۵ لمسیانو خاوند دی.

د ۶۲ کالو راهیسته د پښتو ادبی محیط ته رالویدلی دی.

دوی خپل لومړنی تعلیمات د کندهار په ښوونځی کی سرته رسولی او متوسط تعلیمات یی په حربی ښوونځی کی پرپرښه درولی دی

په متداوله علومو کښی هم تر یوې اندازې پوری مهارت او په تصوفو کی هم یوه برخه لری.

له ۱۳۰۵ کالو څخه بیا تر ۱۳۲۶ سنی پوری ئې د حکومت په مختلفو ادارو کی کارونه کړی او په دغه زمانه کی د یوه کال د پاره معلم هم ؤ او بیا یی له ۱۳۲۷ کال څخه

تر ۱۳۴۰ پوری تجارت او په دغه ترڅ کی یی د رملتون هم را ایستلی ؤ اوس دستی کوم کار نه کوی.

ښاغلی سرپاس چی د کندهار د مجلی یو ټینګ ملګری دی چی د دوی مضامین تل مدام د کندهار په مجله کی ګورو او د کابل په انیس او اصلاح کی هم د دوی مضامین لیده کیږی.

دی نه یوازی د پښتو د ادب یو تکړه لیکوال بلکه په دری ژبه هم ښی ښی مقالی لیکی.

ښاغلی سرپاس په داسی حال کی چی د وطن درد تل ورسره دی د یوه ښه ضمیر او پاک وجدان څښتن او د ښو افکارو او نظریاتو خاوند دی، ده ته چی یو علمی او فلسفی و منطقی بحث او مجلس ورورسیږی نور نو په هیڅ شی پسی نه ګرځی.

د قضاوت او حکمیت جنبه ئې خورا تکړه په یوه موضوع کی تر هغو څو چی په یوه دلیل او منطق د ده قناعت حاصل

نه سی حکمیت او قضاوت نه پر کوی.

دی وایی زه یو تنقید هغه وخت صالح تنقید بولم

چی د هغه د اصلاح او علاج لار هم ښودل شوی وی یعنی تنقید او نظریه دی د واړه سره اخښلی وی ښاغلی سرپاس

چی په خپله یو سوچه او سپڅلی پښتون دی څوک چی په رشتیا او صداقت کار کوی هغه خورا پر ګران او له

دورنګه سړی څخه ئې خورا تر هه کیږی ښاغلی سرپاس د خپل هیواد تقریباً ټوله ولایتونه

لیدلی او کتلی هند او پاکستان ته هم په سفر تللی دی.

د حج د ادا ینی په غرض خوئی عربستان هم غوښتی دی ښاغلی سرپاس د ریاضی یو کتاب تر الجبره پوری مسوده کړی او د مقالو یوه

مجموعه ئې هم غونډه کړی او یو بل کتاب ئې د تقویم استخراج په نامه هم سره راټول کړی دی.
بناغلی سرپاس که څه هم شعر نه وائي خو داسی معلومیږی چی دښو اشعارو سره زیاته علاقه لری او که وغواړی ښه شعر ویلای شی.
د دوی د شعر و دوی نمونی چی یو په پښتو او بله یی په دری ده په لاندی ډول ئې وګوری:

څوچی غوټی وی ګل په پاڼو کی دوام لری
د بلبلانو له آوازه غوږ آرام لری
چی باڼو پورته کی له خو به څخه لاس دقضا
پاڼی تر پری کی په منګو لوتش ګل نام لری

بلبل ته ګوره څو بیده وی پر بستر دعدم
څه غم لی نه وی نه الحان او نسه اعلام لری
د تعشق په مینه راسی د چمن ولورته
قفس ته کی ولویږی پدی چی ښه کلام لری

دوبی ته ګوره چی هر باغ وی د میوو څخه ډک
یخی سایی داشنی باغچی ګلان اقسام لری
اوس بیا وګوره چی خزان راغلی دی' په قوت
باغونه لوټ سوله قاصد دیخ پیام لری

د طبیعت د اتقاضا ده لوی حکمت دی درب
کله بهار کله خزان کله ما بنام لری
نیکمرغی بوله چی یی سپک وی د دنیا بارونه
«سرپاسه» څکه د دنیا اشکال ارقام لری

نعت

دیشب بجزاز روی تو دیدار ندیدم
بر روی زمین سایهٔ دیوار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

خورشید جهان نور محمد [ص] بسما شد
در نزد خدا جز قد دلدار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

ما عاشق و مستیم ز اسرار هپرسید
قدر یکه نمودند دگر بار ندیدم

هر چند نظر بر سر افلاک نمودم
جز خاک درش سرمهٔ ابصار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

شیران و دلیران همه در معرکه بودند
در دشت ودمن جز قدم یار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

در حفظ وطن جان دلیران بکفن شد
در مسلک افغان خط انکار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

با خاک و وطن صدق و صفائی صفت ماست
در راه وفا مثل خود هوشیار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

هم مشرب و هم مذهب و هم دین همه ما ئیم
در زاویهٔ چشم وطن خار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

یارب بکرم این وطن از غیر نگاه دار
در مرحمت تو شک و انکار ندیدم

✡✡ ✡ ✡✡

[سرپاس] اگر به خلد رسیدی عجبی نیست
در دفتر فضلش رقم نار ندیدم

خلوریځه

دهغودی دژوند چاری سی ویجاړی
چی دخپل ټبر او ملک بده به غواړی
پښتانه وای- دقام بده [لوخو] غوښته
ځکه اوس دی پر اوبو وچی ولاړی
(ویران)

دښاغلی [سرین] تتبع اوغونډونه

د کندهار هغه نادره شعراء چی د زمانې په مختلفو ادوارو کی تیرشوی دی

څنګه چی ما شخصاً معلومات کړی دی ټینګ کومان کیږی چی دده دزی، عربی او پښتو دیوانونه دی دښاغلی عبدالعزیزخان دامانیه دحکومت دپخوانی داخله اوحربیه وزیر په لاس کښی وی

دلته ترکومه ځایه پوری چی اشعار ئی دخلکو په خولو کی پاتی شویدی رانقلوو .

په عالم کی ګډ خبر دی د قران
په هر کور کی شوروشور دی دقران
ډال ډول دعباسی دی په هر کور کی
طمطراق ئی کړو پردې دقران
که زاهد د زمانی درسره مل وی
ستا ولاس ته ئی نظر دی دقران
که تجار که زمین داردی که کاتب دی
که سردار هر یو نوکر دی دقران
که سوتی وی اردلی ئی ځی دمخه
چی صاحب دی معتبر دی دقران

****

منقلب شوی ددنیا تمامی چاری
شوې خرابی چی لیدې موبرهغه لاری
عربی اسان ماړه نه دی په لوخو
نی شکر بادام وهی ځوی دحماری
بلبلان طوطیان حیران پرصحرا ګرځی
کارګان ټوله پر ګلزاروهی چغاری
نادان ناست بی غمه عیش کوی آمره
دا خواری دی مبتلا په سل دشواری

نوټ: ددې شاعر سوانح ښاغلی ځلمی ماته راکړیده تشکر ځنی کومه

ملا محمد اسلم اخند کندهاری :

ملا محمد اسلم اخوند د ملا دین محمد اخند زوی په کام لون د کندهار له هغو شعرا ؤ څخه ؤ چی په دری او پښتو یی شعر ویلای شوای اشعار ئی اکثراً عشقی او تصوفی دی چی په دری کښی د خواجه شیراز په پښتو کی د رحمن بابا سبك لری دزو کړی ځای ئی د باميزو کوڅه وه مګر د مړینی نېټه ئی نده راته معلومه عمر یی خلك وائی و ۶۵ کلو نو ته قریبدی

دوه دیوانه ئی چی یو په پښتو او بل په دری دی متبتع ادیب په لاس ورغلی دی ښایی چی یو وخت به ئی خپاره اوددې ګمنامه شاعر نوم به دابدلپاره ژوندی کی اوس ئی دادې دوی دری منظومی د کلام د نمونی په ډول ولولی :

هزار گفت سمن درچمن شمیده کجا — صدای شعر شدو گوش من شنیده کجا
دلم چو شیشه به میخانه موج مرگ زده — که مست بسمل تیغست خون طپیده کجا
چراغ انجمن انجم چمن شب روز — عرق ز اتش لب هست و گل چکیده کجا

ز دیده خواب پرید وفلاخن سنگست — خیال مثل غـزال شب رمیده کجا
جمال یار چو درموج میزند شب و روز — کشند ز بحر گهر هر غواص دیده کجا
بزندگی نتوان یافت وصل بیداری — ز خواب پیش خیالست روح پریده کجا

چه سوز شوق جنون در دلم شود اسلم
شر رز شیشهٔ پرید وبمن رسیده کجا

د ملا محمد اسلم اخند د کلام د وهمه نمونه :

شمس است شمع بیش رخت جمع از حیا — در محفل شعار گل ای شوخ تر بیا
لعلت چو موج خونزده درج عقیق را — در شیشهٔ شراب بـود جـوشش زیا

تصویر خانهٔ صنمان زیر کلك کیست — نقش به مثل پیکر دیگر زدی آیا؟
چالاك و چست چست فلك چشم شمس گیر — دل می برد به یك نظر این حسن بی ریا

ریش صنم چو بر تن عاشق کند گلیم — در بر بگیر مهرخ و بر فرش بوریا

پروانه عشق شمع پریخانه ساخت است
اسلم بسوخت حسن درین بتکده بیا

غلام محمد خان طرزی

✡ د اددری شعر استاد د سردار احمد خان زوی دی چی پ ۱۳۴۵ هجری قمری سنه کی د کندهار دادب روزونکی ښهر په یوه جلیل القدره

کورنی کی زیږیدلی دی په ابتدائی معلوماتو کی د پلار او په ادبیاتو کی د خپل پوه اکا سردار مهردل خان (مشرقی) شاگرد و د خپل

فطری قابلیت او خداداده استعداد اثر ئی و چی لږ ژر ئی په علمی فضیلت سره د امیر دوست محمد خان امیر محمد اعظم خان او امیر محمد افضل خان په دربار کی لږ تقرب پیدا کی.

مگر د امیر عبدالرحمن خان په عصر کښی وروسته تر درې میاشتی بند هند ته فرار کړل سو په ۱۳۰۳ هجری قمری سنه کی بغداد ته او په ۱۳۰۴ هجری قمری سنه کی وحج ته ولاړی

پدې وخت کی ئی یو کتاب د اخلاق حمیدی په نامه چی نوم ئی د سلطان عبدالحمید خان غازی د ترکو ژولواك ته منسوب و تصنیف کی طرزی صاحب د نظم او نثر په دواړو فنونو کښی استاد و

په هر رنگه نظم کښی ئی خپله استادی ښکاره کولای شوای یو دیوان ئی د کلیات طرزی په نامه سره په ۱۳۱۸ هجری قمری سنه کی په کراچی کی طبع شوی دی چی تقریباً څلویښت زره بیته لری د مړینی نیټه ئی هم دغه د کتاب د طبع تاریخ وبولی.

بریښنا [بخرکی]

د مصر مدنیت

مصر د افریقا په شمال شرق کی موقعیت لری او د نیل د ریاب پدې مملکت کی د جنوب څخه د شمال وخواته بهیږی او د دغه رود پر غاړه پخوانی انسانانو یو ډیر عالی مدنیت ومنځ

ته راوستلی و. چی د مصر د مدنیت په نامه شهرت لری هغه وخت چی انسانان د نیل وادی ته داخل سول. څرنگه چی مځکه د کرهڼی د پاره ډیره مساعده وه. نو دوی هم د وحشی ژوند څخه

ویوه منظم ژوند ته متوجه شول او په زراعت ئی پیل وکی. په اوله کی قبیلوی ژوند درلودی. او په ډیرو ایالتو تقسیم شوی وه.

اما کرار کرار کچنی ایالتونه د لوی ایالتو دخوا فتح سوله. او په نتیجه کی دوه غټ

دولتونه منځ ته راغلل. چی یو د پورته مصر دولت و او بل ئی د کښته مصر دولت و اما په آخیر کی د کښته مصر پاچاهان پرلوړ مصر باندی غالبه کیږی او یوی قوی او واحد حکومت منځ ته راولی.

د مصر پاچاهان په تاریخ کی د فرعون په نامه یادیږی. چی تقریباً [۲۶] کورنی پرله پسی تللی او راغلی دی او دری زره کاله یی پرتوله مصر باندی حکومت کړی دی.

د دوی پایتخت به کله تبس او کله به د منفس ښار و د مصر مدنیت هم د نور و مدنیتو په شان کله فاتح او مفتوح وه د دوی د تاریخ په جریان کی د مختلفو تهاجماتو سره مخامخ شوی وه

لکه هکسو سان، آثوریان، هخا منشان چی موږ ئی صرف په نامه سره قناعت کوو او مفصله تشریح ئی زموږ د تاریخی موضوع څخه ډیریږی .

اوس موږ صرف د مصریانو خدمتونه وبشر ته بیانوو : کله چی مصریان په مصر کی مقیم شول دیوه نوی

زراعت اساس یی کښېښود او نوی زراعتی آلات ئی لکه یوم ، جوغ ، او بعضی نور وسائل ئی اختراع کړل

همدارنګه دوی منظمی والی او کاریزونه وکیندل او دوچو مځکو د پاره یی هم کانالونه وکیندله مصریانو هم په اوله کی د طبعی عناصرو

پرستش کاوه او هرشی چی به ئی ودوی ته ګټه او یا تاوان درلودی د هغه د خوشحاله کولو لپاره یی عبادت کاوه په هغه دورو او وختو کی د دوی مشهور مذهبی مشران رع د [لمر مشر] او وزیروسی [د نیل د دریاب مشر] او هم دارنګه فرعون یی دراع د اولادی څخه باله

مصریانو د روح په باره کی داسی عقیده درلوده .

کله چی انسان مړ شی د ده روح او له پلا د غربی غرو وخواته ځی او هلته درع په حضور کی خپل سوال او جواب ورکوی او وروسته تر

یو څو مودې بیرته وخپل جسم ته راګرځی نو د دې مذهبی عقیدې پر اساس دوی د مقبرو په جوړولو کی ډیر کوښښ کاوه او د ننه قبرونه ئی دیوه مړی د پاره مکمل

اسباب تیارو له . او هم دارنګه یی قبرونه ډیر غټ ، غټ جوړول او په هغه کی ډیری ښایستی نقاشی کولی په نتیجه کی په مصر کی

نقاشی ، معماری ، زرګری او د مومیایی کولو فن ډیر انکشاف وکی او تراوسه پوری لاهم د

بعضی فرعونانو جسمونه پر خپل حال پاته دی او د دوی د قبرو څخه درې مشهور قبرونه چی د اهرام په نامه یادیږی تراوسه پوری

موجود دی او د مصر د عجائباتو څخه شمیرل کیږی غټ اهرام یی [خوفو فاکس] نومیږی چی تقریباً [۵۰۰] فټه لوړوالی لری .

او دوه ملیونه خښتی او ډبری پکښی کارسوی دی . مصریانو یو ډول خط چی د [هیروغلف] په

نامه یادیږی کشف کی .

چی د دې ډول خط آثار تراوسه

لاهم د پابیروس پر پاڼو باندی سته . او د لومړی ځل- د پاره د فرانسوی لرغون

پېژندو نکی چه شامپلیون نومیدی . د پایبریوس آثار یی ولاس ته راوستل . او هیرو-

غلف یی ووایه او د مصریانو مدنیت یی وموږ ته روښانه کړی .

د لویانو ژړا

هټلر چی د شلمی پېړۍ د تاریخ له قهرمانانو څخه

دی د لویوالی او بیا د خپل قدرت په وخت کی یی درې واره ژړلی دی هغه وخت چی موریی مړه سوه .

هغه وخت چی المان جمهوری شو .

هغه وخت چی د المان د تسلیم په وخت کی ده ځان

واژه او د ده یو افسر دی لدې کار منصرف کاوه .

(د ع ژباړه)

د هنرمند و خیر ود معرفی په لړ کی :

صایمه زموږ یوه

هنرمنده پیغله

له هغو پیغلو څخه چی د ښځو په طبقه کی ئی ځوانه حوصله ثابته کړه [۳۳] کلنه هنرمنده پیغله صایمه مقصودی ده .

دا پیغله اوس په یوه وخت کی درې ډوله مهمی اجتماعی وظیفی په ډیری کامیابی سرته رسوی داله یوی خوا په کورنیو چارو

کی دخپل پلار مرستیاله ده له بلی خوا د راډیو ئی هنرمندی په حیث جامعه له ځان نه راضی ساتی او په عین حال کی د یو ځوان طاقت په حیث لوړو تحصیلاتو ته ځان چمتو کوی .

پدې ورځو کی د پیغلی صایمی مقصودی په خصوصی ژوند کی دوه مهم تحولات راغلی دی یو دا چی په

انانسری او د راډیو یی ډرامو داستانو او ډیالوګونو

په تمثیل کی د برخی لرلو نه علاوه پدې لنډو څو ورځو کی دی ته موقع ور کړ سویده چی په راډیو

پیغله صایمه [مقصودی]

کی د شپی د اتو بجو د مهمو خبرو په ویلو کی برخه واخلی .

بل تحول چی د دې په ژوند کی راغلی دی دادی چی بکلوریا

یی پاس کړیده او سبږ ئی د کابل پوهنتون په کانکور کی ګډون کړیدی چی په ډاډه زړه یی نتیجو ته انتظار وباسی .

صایمه مقصودی د راډیو په زیاتو پروګرامونو لکه ډیالوګونو، شعر ویلو، انانسری او نطاقی کی برخه اخلی خو هر ماښام چی داد

خپلو نورو هنرمندو ملګرو سره په موټر کی د کور خواته روانیږی ستومانی نه لری بلکه په پوره حوصله او علاقه د خپلو ملګرو سره د هری

سوی او هر ذوق سره برابری خبری کوی .

د صایمی پلار چی شاعر صوفی او د طریقت خلیفه دی د خپلی لور همدغه صفت یی ډیر خوښیږی لکه چی

ده وویل په ما خپل ټول زامن او لوڼی ګرانی دی خو د صایمی عقل او اخلاق می

ډیر خوښیږی مولینا شاه مقصود ګرم د خپلی لور د عقل او اخلاقو د تشریح کولو په تریخ کی وویل :

زما لور صایمه دومره هوښیاره او عقلمنده نجلۍ ده چې د هرچا د سویې او ذوق سره برابرې خبرې

کوي او دا دهرې سویې د خلکو په ټولنه کې بیګانه او پردې نه ښکاري په عین حال کې زما د لور اخلاق له دې امله د ډاډ وړ دی چې دا په وړو او زړو ټولو ګرانه ده

په مقابل کې صایمه د خپل پلار له دې اخلاقي شجاعت څخه امتنان څرګندوي چې دې ته ئې د خپل ښه نظر له مخې

د اجتماعي او هنري روزنې له پاره زمینه برابره کړیده.

صایمه د خپل علم او عمر یوې داسې مرحلې ته رسیدلې ده چې اوس د ځان او خپلې

ټولنې په باره کې د نظریې ښکاره کولو صلاحیت لري په اجتماعي نظریاتو کښې په افغانیت عقیده لري خو افغانیت په لباس کې نه بلکه په اخلاقو کې غواړي

د ځان په باره کښې یې سالمه نظریه داده چې دا تحصیلات تر واده مقدم بولي د مینې او عشق په باب د دې عقیده داده چې مینه باید هوسې نه وي.

د نیکمرغۍ او خوشحالۍ په باب د ۲۲ کلنې او بکلوریا پاسې پیغلې نظر دادی چې خوشحالي د انسان په نظر پورې اړه لري که انسان

ښکلې نظر ولري تل نیکمرغ او خوشحاله وي او که تل تیاره په نظر کې ساتي هغه د ژوند په خوشحالیو کښې بې برخې وي.

صایمه وایي چې احساس زما د هنر ډیر ښه لارښوونکي او استاد دی.

صایمه یوازې د راډیو مله او نطاقه نده بلکه داد سټیج د مخ تکړه هنرمنده هم ده.

د قهرمانانو په ډرام کې دې د یوې غیرتمنې پښتنې رول لوبولی دی چې د دې

د کامیاب رول له امله ورته بخښښ هم ورکړ شویدی.

دا هنرمنده په کال ۱۳۴۴ کښې د اعلیحضرت معظم همایوني له حضوره

د راډیو په پیشنهاد د هنر په مدال سره مفتخر شویده چې د خپلو زیاتو افتخاراتو موجب یې ګڼي

صایمې په ۱۳۴۳ کال کښې د افغاني هنرمندانو سره یو ځای د ځینو ډرامو د اکټ کولو له پاره شوروي اتحاد ته تللې ده.

دغه هنرمنده نجلۍ په ۱۳۲۷ کال په واصل آباد کې په یوه روحاني کورنۍ کې زیږیدلې ده.

د صایمې په باب د یو لیکوال نظریه داده چې دا یوه خوشحاله او اجتماعي نجلۍ ده

(طلوع)

د هنر په باره کې وائي

✿ هر هنر دوست باید لږ او ډیر د هنر پیژندنې قدرت ولري او پدې برخه کې ئې یو څه کوښښ کړیوي: تر څو وکولای شي د ښکلو آثارو تشخیص وکړي او په هغو کې د قضاوت حق پیدا کړي.

[فلیسین شماله]

✿ طبیعت د هنر څخه تقلید کوي.

[اسکار وایله]

✿ هنرمند د هغه څه په یاد ولو سره چې د ده تر مخه ئې انجام کړي دي او هغه څو تر ده وروسته ئې انجاموي زده کړه کوي.

[ګابریل سي ای]

د عبدالهادي [ژباړه]

د هارونی ترجمه:

په اقیانوس بحر کی یو مضر حیوان سته چه دانسان سره اموخت لری

تر اوسه می خو ځایه دا خبره لوستلی ده چی واقعی [اکتپوس] یعنی هغه حیوان چی په بحر کی اوسی او ته ینی لری ای ضرر ه دی.

هغه خلک چی دا لیکنی کوی یادده له ضرره ای خبره دی یا کورت دا حیوان نه پیژنی.

دا حیوان چی ډیر دا وقیانوس په بحر کی البته که لری دونه خطرناکه دی چی د بحر ډیر لوی لوی حیوانات هم ځان ځنی کوبنه کوی.

هغه اله ینی والا حیوان چی په مدیترانه کی اوسی تر «۳» متر و بالاندی خو په اوقیانوس کښی دا حیوان تر «۳۰» یا «۴۰» متر و پوری موندل کیږی.

دا وقیانوسی د [ساملاتر] په جزیرو کی دا حیوان ډیر لیدل کیږی اوتادې ځای «اکتپوس» خورا مضر او خطرناکه دی لیکن په عین حال کی ډیر آشنا پرسته هم دی.

ما ددې ځای دیوه اوباز څخه پوښتنه وکړه چی دا څنګه حیوان دی؟ دا سړی «تاپو» نومیږی او ویرسن وکلر ئی ورته دی حیوان سره دی یوه ورځ ئی نکل راته کاوه چی دا حیوان د ونه مضر دی چی انسان سره مخامخ سی فوراً حمله پر کوی کله یا ورسره آشنا سی. او رفاقت ورسره پالی مثلاً زه د داسی یو حیوان سره دوستی لرم او دا دری کاله کیږی چی سره پیژنو کله چی زه و بحر ته راسم او په هغه نامه چی پرده می اینبی دی ووږغ کم نو دستی داو بو سر ته راسی او زما په لیدو ځینی حرکات کوی چی زه ئی د دوستی لخښی بوالم.

زه هم هره ورځ ده ته خوراکو نه راوړم او دی د صدف په لاس ته راوستلو کی ډیره مرسته راسره کوی زما ګډده د رفاقت وجه داده کله چی ما او ویدل چی دا حیوان اموخنه کیږی او هم د صدف په لاسته راوستلو کی ښه مهارت لری نو د هغه «اکتپوس» سره مې چی زه ئی «پوپو» بولم شناخت واچاوه او په غډامی اموخته کی دی د بحری دغه چونګاښانو ډیر شوقی دی زه داسی غټ چونګاښ ورته برابروم تا پو پسله دې خبرو دعوت کړم چی زه ده رفق «اکتپوس» پخپلو سترګو ووینم نو په کښته کی ورډهی شو او کله چی د «اکتپوس» سترګی پر «تاپو» ولګیدې په ډیره چټکی زموږ پرخوا راوخوځیدی دا چی دده ایښی په حرکت کی وې او دوې برېښنو کی سترګی ئی په موږ کی بندی کړی وې یوه عجیبه منظره ده دا حیوان

زموږ مخ ته راغی یوه پښه ئې
پورته کړه او کرار ئې زما
ملګری «تاپو» ته ورنژدې
«تاپو» هم فقط دده وپښی ته

لاس ورؤړ دا ګوا کی یو
روغبړ ؤ چی دده سره ئې
وکی، پدې وخت کی [تاپو]

د کڅوړی څخه یو چونګاښ
راوکیښ او دغه حیوان یوه
پښه ور وغزول او هغه ئې
خولی ته ورساوه ـ زما او باز

ملګری «تاپو» راته وویل
چی اوس غواړې چی دا
حیوان په قهر کم پدې ترتیب

چی ټوله چونګاښان به بحر ته
په یوه پلا وروغورځوم دده
ئې په نیولو وس نه رسیږی
نو هغه وخت به ئی د قهر ؤ غضب

په حالت کی وینو دا به هم
یوه تماشه وی کله چی زما
لارښوونکی او باز د کڅوړی

څخه چونګاښان په یوه پلا
بحر ته وغورځول څو دانی
رفیق حیوان په پښو ونیول
پدې حال کی یو غټ اته پښی

درلودونکی حیوان هم پیدا
شو او زموږ پر اموخته حیوان
ئې حمله وکړه ده غوښتل چی
چونګ)ښ ځنی دلاسه کړی
دا واقعه پر «تاپو» ښه

ونه لګیده او دملا څخه ئې
خپل تېره خنجر را وکیښ
او پر دغه غټ حیوان ئې حمله
وکړه کله چه زما لارښوونکی
ملګری «تاپو» پر حیوان

حمله کول د کښتۍ څخه
ور وغورځېدی او کښتی
نا بېره کږه شوه زه ئې هم

بحر ته وروغورځولم دا وخت
ددې غټ حیوان یوه پښه
پر ما وپېچل شوه لیکن کله
چی زما شجاع ملګری په

ډیره دلاوری په جنګ
مشغول ؤ نو لږ آن بعد ئی د
خنجر په وار و «اکتپوس»

د پښو واچاوه او هغه غټه
پښه چی زما دوژلو د پاره
را باندی پېچل شوی وه
سسته شوه او زه ئی ایله کړم

دا وخت ما یو څه د هوا ذخیره
چی درلوده په کار واچول
او د لاس و پښو په حرکت می

ځان ته نجات ورکی څو
د قیقی تر جنګ وروسته
دواړه سالم راووتلو که
ګورو چی د «تاپو» رفیق

حیوان د چونګاښانو په
خورک لګیا دی «تاپو» شکر
وکیښ دا چی خپل رفیق
«پوپو» ئی جوړ روغ ولید.

وروسته مو دمړه سوی
[اکتپوس] جسدو چی ته یووړاو
خلک به ئی تماشی ته راتلل دا
حیوان تقریباً [۱۰] متره و «تاپو»

راته وویل چی که ته نوای زما
مرګ به حتمی وای ځکه ددې
حیوان څه فکر او قوه تا ته متوجه

وه او ما ته په ټوله قوه را ایله نه ؤ
نو ځکه ما خپل کار وکولای شو
چی دی ووژنم.

د هنر په باره کی

د لویانو خبری

✿ هنر د طبیعت څخه عبارت دی چی انسان پر هغه اضافه شوی دی

[بیکن]

د هنر لوړ ترین هدف د اجتماعی عواطفو او احساساتو ایجاد دی

[ګویو]

✿ هنر ډیر لوبی ته شباعت لری یوازی د ظرافت معنویت او پیچیدګی ئې ور باندی اضافه ده.

فیلسین شماله]

[تپاند]

د نیازی ژباړه:
د میرمنو د پاره

خوب او ښکلا

خوب د ښکلا یو مؤثر عامل دی او څوک چی غواړی جذابه قیافه، بیداره سترګی روغ جسم او خوشحاله روح ولری، ښایی چی د خوب وختو ته متوجه، او باید په ۲۴ ساعته کی ۸ ساعته د آرام خوب د پاره بیل وخت وټاکی.

زیاتری میرمنی و خوب ته اهمیت نه ورکوی او په ډیره بی فکری د خوب وختونه د تفریح او ګرزېدو قربانی کوی فقط یو یا دوه ساعته خوب کوی داسی ښځی چی بڼه ئی ژړه، بی نوره سترګی کاړی واړی بدن ئی وی تعجب کوی څرنګه چی دا د تعجب وړ خبره نده او دغه حال بیله بدخوابی څخه بل شی ندی آرایش هغه وخت کولای شی زیات تر هغه چی یاست په رشتیا مو ښکلی کړی چی خوشحاله بڼه آرام بدن، او ښه صورت مووی او که نه وختی چی له ستړیا سترګی نه رپیږی نو پوډر به څه وکړی نو ای هغو میرمنو!

چی د شپی له خوا ډیری ویښی او لږ خوبونه کوی. د خپلی سلامتی سره دښمنی لری، او ښکلا چی زیاته مو خوښه، او پدې باره کی زیار باسی له همدې لاری ئی پولوی لاس خرابوی.

میلمستیا او تفریح ښه ده، او هیڅوک لدې څخه منکر نه دی اما په داسی شرط چی اندازه ولری. د مثال په توګه وختی چی صحت ښه نه وی څرنګه کیدلای شی چی له میلمستیا، مجلس او شپی کښېنستلو څخه خوندوا خیسته سی تاسی مطمئن اوسی چی په شپو شپو خوب نه کول به ډېر ژر تاسی رنځوری او له پښو واچوی.

همدغه رنګه هغه میرمنی چی له نه خوب کولو څخه شاکی او په عذاب دی باید پدې باره کښی ډیره توجه او فکر وکړی. دا چی هره شپه سترګی په زوره پټوی، او خوب هم ځنی تللی وی یا د خوب راوستلو ګولی خوری نتیجه نه لری. خوب باید طبیعی او په آرامه وی.

زیاتره میرمنی د خوب په وخت کی دا حسوی چه اعصاب ئی ناآرامه او بیله کوم سببه د بیداری یو هیجان موجود وی.

د زیاترو ډاکترانو او متخصصینو په نظریه دغه هیجان د جسمی عدم فعالیت له سببه دی یعنی بدن مو دومره ستړی او ناآرامه نه دی چی استراحت دی وغواړی.

ددې د پاره چې ښه خوب درسي دورځې پیاده ګښت او ځینې نور ګټور ورزشونه چې ستړیا راولي وکړي اما دا هم په یاد ولري چې تراندازي زیات ستړي نه شي څرنګه چې ډیره ستړیا هم بې خوبي را لي او تاواني ده په دوبي دیخو شیدو او په ژمي دګرمو شیدو چښل ترخوب دمخه ډیره فایده لري.

همدغه رنګه دخوب کولو لپاره کالي هم مؤثر دي په دوبي هیڅکله پنډاو تنګ کالي مه اغوندي، او څومو دوسه کیږي په آزاده او پراخه هوا کې بیده، او بیله یوه نازك ټو کره بل شي پرځان مه اچوي چې ډېر موګرم او په عذاب نه کړي ترخوب کولو دمخه په یخو او بو لمبېدل هم دخوب راوستلو لپاره ډیره مرسته کوي لیکن دغه لمبېدل به په دوبي کې وي نه په ژمي او یخه هوا کښې. دخوب راوستلو ګولۍ د ډاکتر تر ویلو دمخه مه خوري ځکه که له ځانه وخوړل شي ترګټي ئې تاوان ډیر یږي

که یو وخت د کوم ملګري او دوست سره مخامخ سواست چې بڼه ئې الوتي، ستړي ستومانه او یا عصبي معلومیږي ژر ئې دخوب په باره کښې پوښتنه وکړي.

تاسي په هره ژبه چې کولای شوای پوه او تشویق ئې کړي چې دخوب په باره کې زیاته پاملرنه ولري.

څرنګه چې دښځو زیاتره عصبانیت او بې حوصله توب دهغو دبې خوبي نتیجه ده او هم پدې پوه شي چې خوب کول هغه وخت مؤثر واقع او تاسي ته ښکلا بخښي چې په سمه توګه عملي شي.

ځینې میرمنې دخوب په وخت کې لاسونه او پښې سره پېچلي ګنجلکي بیدیږي.

پدې توګه دخوب ټول وخت اعصاب په تکلیف، او کله چې ویښې سي په عوض ددې چې بیداره او آرامه وي کهاله او زهیره وي

دخوب په وخت کې ښایي چې حتماً لاسونه او پښې خلاص او آزادي وي داسي لکه اصلاً چې ئې لاس او پښه نه وي او هم کوښښ وکړي څومو دوسه پوره وي د هغو دروندوالي حس نه کړي اعصاب او نور غړي موډیر آرام پریږدي

او کله چې بیدیږي عشقي، پلیسي او نور هیجان راوستونکي داستانونه مه لولي.

دپورو، شخړو، او نورو ناآرامیو فکر مه وهي که چیري کولای شي په دغه وخت کښې ټول فکرونه له ځانه لیري کړي

پدې ترتیب سره به موپه ۲۴ ساعتو کې د ۸ ساعتو په خوب کولو دځان ښکلا ساتلي او دآرایش په وخت کې به په ښه صورت کولای شي چې دخپلو دښکلا په شیانو باندي زیات ترهغه چې یاست ځانونه ښه ښکلي او زیبا کړي.

دریمه جامه

ښکلي نجلي، ددې لپاره چې دسند پرغاړه دولي تر درختي لاندي دخپل محبوب دلیدو لپاره ولاړه شي، خپل دوه ورښمین کالي ئې اغوستي وه

وختي چې لمر ورو ورو لویده دغو دوو مینانو دزړه راز سره وایه.

یوار ښکلي نجلي ولاړه شوه او مخ یې دشرمه سور شو؛

ځکه پوهیده چې ددې دریمه جامه یعني دولي ددرختي سایه ئې له بدن څخه لیري شویده.

(دکارګرژباړه)

دلیپ کمار

یا

تراژیدی قهرمان

دلیپ کمار هغه په زړه پوری هنری چهره ده چی اکثرو دوستانو دده هنرمندی د سینما په پرده کی لیدلې اوغوره کړی ده .

دا پنځه څلویښت کلنی نامتو لوبغاړی چی محمد یوسف نومیږی تقریباً شل کاله کیږی چی دهند دخلکو بلکه دایشیا په ټولو هیوادو کی یومنل شوی او دهنر دستوری په شان د هندوستان په سینمائي آسمان کی ځلیږی چی اوس بین المللی شهرت لری .

دلیپ کمار په یو کال کی تقریباً یو یا دوه فلمونه په خپله سرمایه وړاندی کوی چی د فلم داستان اوخپل دمقابل لوبی هنرمندان هم دی پخپله انتخابوی .

او فلم ئي په هندوستان کی هر کال دخلکو درای په اساس د کال فلم ګڼل کیږی .

او دی هغه لوړ هنرمند دی چی تر اوسه په هند کی هیڅ یو هنرمند دده هنری پایه شهرت نه لری دده نامی فلمونه عبارت دی له [سنګدل] [انداز] [ترانه] [بابل] [اورن کټولا] [سنګرش او ګنګا جمنا عظیم فلم [آرزو] داغ چه د [ګنګا جمنا عظیم] هم دده د پاره دونه شهرت غونډ کړ چی د داروپا [۱۴] هیوادو په اوله درجه سینما ګانو کی دخلکو دزیاتی علاقی سره مخامخ شو

او دمسکو په سینمائی فیستوال او دچکوسلواکیا په سینمائي فیستوال کی هغه جایزه چی دسرو زور د درختی جایزی په نامه یادیږی وګټل او د دلیپ کمار [مغل اعظم] هم دده په هنری ژوند کی یو افتخار ؤ .

لنډه ئي دا چی دانډیا په سینمائي آسمان کی دلیپ کمار هغه ځلانده ستوری دی چی تل ځلیږی .

دلیپ کمار

د دلیپ کمار [رام اورشیام] آدمی سنګرش لیدر دده دهنری شهکارو څخه ګڼل کیږی .

د تراژیدی قهرمان دژړا هغه نومونه د دې نامتو او محبوب هنرمند دژوند او مفاخرو څخه ګڼل کیږی .

دا هم بابد وویل شی چی دده فلمونه ټوله استثنا ئي دی چی لوی اجتماعی انتباهی شکل لری او دخلکو دډیر استقبال سبب ګرزی .

نوموړی هنرمند پنځه کاله کیږی چی د ښکلی هنرمندی «یوه بانو» سره ګډ ژوند لری چی دیوه وړوکی زوی په درلو دلو سره د دوی هنری ژوند ته ښه خوند اوروڼاور کوی . د ظاهره [هاله] و باړه

د لطفي د منفلوطي

له العبرات نومي عربي کتاب څخه

د ښاغلي نجيب ترجمه

د مصطفی لطفي منفلوطي «۱۸۷۶-۱۹۲۴» په آثارو کي چي د عربو وتلي اديب او ستر ليکونکي ؤ د انظرات او العبرات کتابونه ډېر مشهوره دي دي د مصر د نهضت لومړي علم بردار د مبتکرو مضامينو په ليکلو کښي ډېر شهرت درلودي او په علمي محافلو کښي ئي د قلمي قدرت ډېر تقدير کېدي .

يتيم

زموږ له کوره سره په يوه لوړه بالا خانه کي د نونسو ياشلو کالو پرسن يو ښکلي ځلمي اوسيدي زما په ګومان سره د مصر په يوه عالي يا منځني ښوونځي کښي به شاګرد ؤ ولي چي د کوټي په کنج کښي به تل وډېوې ته نيژدي د کتاب په ليکلو ، مطالعه او يا يادولو بخت معلومېدي ژړمخ ببرو ورېښتانو او کمزوري بدن ئي د ډېر ربړ د تحمل او يا کوم باطني رنځ لرلو نمايندګي کوله د نه تعلق لرلو په نسبت سره نه پوهيدم چي څه آرزوګاني په غمجن زړه کښي لري او يا د زماني د حوادثو سيلاب په کومو سره ګردانيو کښي ګير کړي دي د ژمي په يوه شپه کي چي د کوم کار له پاره د مطالعې واطاق ته تللي وم ناڅاپه مي له کړکۍ څخه پر هغه ځلمي سترګي ولګېدې چي وڅراغ ته نيژدي ئي سر پر کتابچه ايښي بيخوده پروت دي له ځانه سرمي وويل څه وسوه ډېري مطالعې به ستړي کړي وي چي خوب غلبه پر کړي او کټ ته ئي د تلو موقع نه ده پيدا کړي زه لا په همدغه فکر کښي ډوب وم چي په ډېره وار خطايي ئي کوډال سر راپورته کړ او يو سوړ اسوېلي ئي وکيښ کتابونه او کتابچي ئي په اوښکو داسي لندې شوي وي چي تا به ويل چا او به پر پاشلي دي سره لدې چي ليکلي کاغذونه ئي خراب شوي او توري ئي سره ګډوډ شوي وه خو بيا ئي هم قلم راواخيستي او پخپلو ليکلو ئي پيل وکړ

ددې توری شپې په چپ-
چپایی کښې ددې بېوزلی
غریب دغه پریشانه وضعیت
ډېر خفه کړم په دغه سړه کوټه
کښې چې دوره او کړکیو
هینداری ئې هم ماتی وی

نه ئې شړی درلوده چې پرځان
ئې واچوی او نه ئې په نغری
کښې اورؤ چې وتاو ته ئې
کښېنی ماله ځانه سره وویل
دا بېچاره دمخه دعمر دغمو

او سختیو دکړاؤ تر رسیدو
دژوند په تکلیف او مصیبتو
اخته شویدی نه کوم داسی
خواخوږی لری چې په دغسی
مصیبت کښې خوله په وچه
شی او نه ئې کوم داسی صمیمی

ملګری شته چې ودغه
کمواکی نامراده انسان ته
چې زړه ئې د پوښتیو په منځ
کښې ویلی کیږی او دوجود
عمارت ئې د بیخ ختلی دیوال

په ډول سره مخ پر انهدام
دی دمرستی لاس اوروغځوی
زه لا هم هغسی پر دغه
ځای ولاړ او په دغه چرت
کښې ډوب وم چې هغه بیوزلی

کتاب ټپ کړ ولاړ شو او د
کټ خواته ولاړ ماهم د
خوب د کوټی وخواته حرکت
وکړ دشپې ډېره حصه تیره

شوی وه او سهار رانېژدی ؤ پسله
دې شپې څخه می دانوری شپې
هم کله کله لیدی چې ګاهی

به ئې ژړل او ګاهی به ئې سر پر
زنګانه ایښی او دفکر په سمندر

کښې به لاهوؤ کله به ئې بیاد
بورکی مور په ډول سره په بستر
کښې اوږد- اوږد زګیروی کاوه
او یا به لېونی لېونی دخونی له یوه
سر څخه بیا تر بله سره پوری چټک

چټک تی اوراتی په دیوالو به ئې
منګولی لګولی چې ښه به ستړی
شو نو له ډېرو سوګلیو څخه به ئې
آواز ټپ ودرېدی پرچوکی به

کېنستی او پښی به ئې اوږدې
وغزولی دده دې مضطرب وضعیت
زه هغو مره متأثر کړم چې زړه
می له ډېری خواشینی څخه نژدې ؤ
چې وچاودی او له سترګو څخه می

او ښکی دولو په شان بهېدلی
ولی به نه بهېدلی خو دیوه مظلوم
انسان دردناکه منظره ئې لېدله
یو وار به می ویل ورشه دیوه

مهربانه دوست په شان ئې پرسر
لاس تیر که د زړه حال ځنی
وپوښته ورته ووایه ځلمی جانه
ولی داسی غمجن او ناقراره ئې؟

بیا به می ویل لېونی شوی یی
دچا په پټ راز دی څه غرض دی
هغه به ئې دخپلی سینی په صندوق

کښې پټ ساتی او اظهار ول
به ئې مصلحت نه ګڼی هغه
بله شپه ئې په کوټه کښې سړه
سنا او تپه تیاره وه ماله ځانه
سره وویل څه وسوه ښایی
چې بهر ته به تللی وی مګر

ناڅاپه می یو اوږد کمزوره
زګیروی تر غوږ وسو ډېر
وار خطا شوم ټینګ یقین
می شو چې ځلمی خورا
ناروغه او په خوا کښې ئې

کوم رښتین خواخوږی نشته
حالت ئې لکه چې ډېر خطرناک
دی سمدستی زه ؤ نوکر په
ډېر تلوار سره ډېوه په لاس

کی دهغه وکوټی ته داخل
شوو دډېوې په رڼا سره ئې
خماری سترګی روڼی کړې
او په ډېر حیرت وافسوس سره

زما وخواته راواړولی ما
دمینی ؤ شفقت لاس دده پر
ښکلی مخ تیر کړ او په ډېر
اخلاص سره می د بشری عاطفی
له مخی ورته وویل (جانه)

زه ستا د دغه کور همسایه
یم راغلی یم چې په غم دی
شریك او له خپله بشری وسه
سره سم کومه مرسته درسره
وکړم خدای ږو چې ستا
غمجن زګیروی می د زړه
مراندی پری کړی ځلمی چې

زما د مینې ډکه وینا واوریدله
حوصله ئې زیاته شوه زما

لاس ئې پر خپل تندی
کښېښووی او د حال په ژبه ئې
پوه کړم چې تبه مې ده قسم دی

چې په تندی ئې زما لاس وسو
او راته معلومه شوه چې ډېری
سختی محرقی تبی نیولی
دی وجود ئې ډېر کمواک
او په ارت قمیص کښې د سر

پری کړی چرګ په څیر
سره پورته، پورته غورځېدی
زما په څوڅاڅکو دوا څڅولو
سره لږ څه پرهوښ راغی او

په یوه خواږه نظر ئې راته
وکتل دوچوچاو دلوشونډانو
په کرار - کرار خوځولو سره
ئې وویل تشکر په ډېره

خوشحالی سره مې پوښتنه
ځنی وکړه ورور که! تا ته
څه تکلیف پیښ دی؟ په ښکلو

خمارو سترګو کښې غټی
غټی او ښکلی د مرغلرو په شان

ولغړېدی په رېږ دېدلی
آواز ئې راته وویل په ځان
نه پوهیږم ما ورته وویل
که ستا اجازه وی کوم طبیب

به درته راولم ژړغونی شو
په غوڼېږی ئې وویل طبیب
د هغه چا په کار دی چې ژوند

خوښوی سمدسی ئې لدې وینا
سره سترګی پوټی شوی او د
بیهوښی څپه پر راغله د طبیب
راوستنګ ضروری شو که څه هم

زړه سختی او بی عاطفی طبیب په
دغه توره شپه کښې نه غوښته چې
د یوه بېوزلی وکټ ته راشی خو ما
په ډېر وزاریو سره په یوه چل د
چلور اوستی پسله نبض له معاینی
څخه ئې کرار په غوږ کښې راته
وویل د ناروغه خوار حال ډېر
سخت دی او زما په عقیده سره د
ژوند امیدورته نسته مګر سره
له هغه به هم زه دا نسخه درته
ولیکم:

بلی! ماده پرسته طبیبان تل
د خپلو دوا پلورولو په ملحوظ د
ناروغانو د ژوند ټکیس اخلی
خو په هر حال طبیب مې پسله
فیس له تأدیی څخه رخصت او
سمدستی مې د نسخی لیکلی دوا
تهیه کړه ټوله شپه مې باڼو پر
باڼو کښې نه ښووی وکټ ته نژدی
هک پک ناست وم کله به مې
د اروور کول او ګاهی به مې
پر پرېشانه حالت او د ژوند پر
نامراد یو باندی غټی، غټی د حسرت
او ښکی تویولی سهار ته نیژدی
زلمی پرهوښ راغی یوې خوا
او بلی خوا ته ئې ښکلی سترګی
ولغړ ولی زه یی ولیدم د سر
په اشاره یی راته وویل ته لادلی
یی؟ ما ورته وویل چې هو!

پوښتنه مې ځنی وکړه
تر برایی خو اوس لږ څه ښه
معلومیږې؟ راته وی ویل
پاک څښتن دی ستا پر خوله
آمین کړی او د دا دونه
تکلیفو اجر دی په دنیا او
آخرت کښې درکړی ما ورته
وویل وروره ته څوک یی؟
څو عمر کیږی چې پدې ځای
کښې اوسی؟ نه ده راته
معلومه چې مسافر یی او که
د دې ملک اصلی اوسیدونکی
یی؟ صرف دغه ظاهری
تکلیف مضطرب کړی یی او
که کومه بله سخته صدمه
له کومی بلی خوا درسیدلی
ده؟

په جواب کښې راته وویل
که مې رښتیا پوښتی دواړه
تکلیفونه راته متوجه دی
ما ورته وویل ورورجانه د
خپل زړه حال د خوا خوږی
دوست په څیر سره پوره راته
ووایه هغه راته وویل ګرانه
غمخوره اشنازه پدې دوو
شرطو سره خپل د زړه حال
درته بیانولای شم یو دا چې
که با الفرض ژوندی پاته شوم
زما ؤ ستا په منځ کښې به
ویلی راز پټ وی او که احیاناً
مړ شوم نو یو وصیت چې درته
کوم یی پر ځای کوی به یی.

(نور بیا)

د نورو ادب

د گویټه له اشعارو څخه

مینی ته

هغه وخت چی د لمر وړانگی د اوبو پر مخ باندی ځلیږی پدې وخت کی می ستاسپین مخ وسترگو ته جگ ودریږی .

هغه وخت چی سپوږمۍ په خپلو زرینو پلوشو سره د سیند څپی ستوری کولی پدې وخت کښی می ستاسپین مخ وسترگو ته جگ ودریږی

هغه وخت چی له ډیره لیری واټنه څخه گرزی او غبار جگ شی ته زما سترگو ته جگ ودریږی .

په تاریکه شپو کی چی د غرو په سختو لارو کی د پردیسانو ساړه کیږی زه ستا د شفقت آواز اورم د شپی په سړه سنا او د بیابان په چپ چپائی کی ما ته ستا د نغمو زړه وړونکی آواز راځی .

ته ئی په یقین ومنه چی سره له هر څو مره لیری والی ته زما سره او زه ستا سره یم .

په داسی حال کی چی لمر لویږی او ستوری ځلیږی کشکی ته راسره وای .

دع - ن - ژباړه

دمځکی دسروی او احصائیی رئیس ښاغلی
نعمت الله دکا دستر دښوونځی د ۱۲ ټولګی
د پنځمی دورې یوه شاګرد ته دبری لیک
دورکولو په حال کی لیدل کیږی

دمځکی دسروی او احصائیی دریاست مرستیال ښاغلی غلام سخی
«عثمان زاده» په هغه مجلس کی چی دکا دستر د ۱۲ ټولګی
د پنځمی دوری فارغانو ته دبری لیکونو ورکولو په باب
جوړ شوی ؤ دبیانیی دورکولو په حال کی